نړیوال بانک
له بې وسۍ فقر او غربت څخه ژغورلې
نړۍ ته د رسېدلو لپاره هلې ځلې

زمري ۱۳۹۰ (اګست ۲۰۱۱)

# د افغانستان اوسني حالتو ته یوه لنډه کتنه

**اقتصاد:** دافغانستان اقتصاد دپرمختیایي مرستو او دنړیوالي ټولنې دامنیتي سکټور دلګښتونو په ښکته پورته کیدو دکتنې وړ وده لرلې ده. ددې اقتصادي ودې په ځینو فاکتورونو کې له هیلې او توقع څخه لوړ کرنیز محصولات، په ترانسپورت او ساختماني سکټور کې دکتنې وړ وده، امنیتي لګښتونه او په ځانګړې توګه په ۱۳۸۸ لمریز کال کې دنړیوالې ټولنې مرستې شاملې دي. په ۱۳۸۹ لمریز کال کې کورنی ناخالص عوایدو په سلو کې ۸،۲ وده کړې، چې دا دتیر (۱۳۸۸ لمریز) کال په پرتله په سلو کې ۲۰،٤ کمښت ښیې، چې دهغې اصلي دلیل په ۱۳۸۷ لمریز کال کې په کرنیزو محصولاتو کې کموالی دی. کورني ناخالص سرانه عواید په ۱۳۸۹لمریز کال کې ٥٦٠ امریکایي ډالرو ته رسیدلي دي.

د افغانستان منځ مهاله اقتصادي شالید او درونما امید واره کوونکې ده، چې کورنې ناخالص عواید یکې دشاوخوا په سلو کې ۷،۹ څخه تر ۸،۲ پورې وده او په دغه هیواد کې پولي تورم هم دقناعت وړ پیش بیني او وړاندوینه شوې ده. اوږد مهالي اقتصادي وده دپرمختیا، دکانونو له عوایدو څخه اغیزناکه استفاده او دکرنې د سکټور په پراختیا کې دخدمتونو برابرولو غوښتونکې ده، چې دا کار دغذایي مصؤنیت درامینځته کولو، دکار کسب دلارو چارو پیدا کولو، دفقر او غربت د له مینځه وړلو او همدارنګه دصادارتي عوایدو دلوړو لامل او سبب ګرځي.

> **د روغتیا سکتور پرمختیایي شاخصونه:**
>
> په هرو ۱۰۰۰ نویو زیږیدلو کې دمړینې د کچې کمښت: په ۲۰۰۶ م کال کې ۱۱۱
>
> د پنځه کلونو څخه دراښکته عمر لرونکو په هرو ۱۰۰۰ ماشومانو دمړینې کچه: په ۲۰۰۶ م کال کې ۱۹۱ څخه په ۲۰۰۸ م کال ۱۶۱
>
> له زیږون څخه د مخه دحامله ښځو ساتنه او مواظبت: په ۲۰۰۴ م کال کې په سلو کې ۱۱ څخه په ۲۰۰۸ م کال کې په سلو کې ۴۹
>
> د ماشومانو په واکسین کولو کې زیاتوالی: په ۲۰۰۵ م کال کې په سلو کې ۱۲ څخه په ۲۰۰۸ م کال کې په سلو کې ۳۳
>
> د زده کوونکو د شمولیت اندازې له یو میلیون څخه په کال ۲۰۰۱ تر ۸ میلیونو ته په کال ۲۰۱۰ زیاتوالی موندلی دی

**د انتقال پروسه او بهیر:** نړیوال پوځي ځواکونه دنړیوالي مرستي او همکارۍ دځواکونو (ایساف) تر امر لاندې له نړیوالو ځواکونو څخه افغان ځواکونو ته د قدرت دانتقال د پروسي او بهیر لومړنی پړاو (مرحله) د ۲۰۱۱ میلادي کال دجولای دمیاشتي په ۲۵ نیټه په بشپړو سیمو بشپړکړ، چې په هغو کې د :هرات ښار، دلغمان دمرکز مهترلام ښار،دبامیان او پروان ولایتونه، دهلمند دولایت دلښکر ګاه ښار او دپنجشیر ولایت شامل دي. په پام کې ده چې دا بهیر او پروسه په دریو راتلونکو کلونو کې بشپړه شي ، چې دهغې په نتیجه کې به دافغان امنیتي ځواکونه امنیتي مسوولیت په خپله غاړه واخلي. دا په دې معنا دي چې نړیوال جنګي او پوځي ځواکونه به د ۲۰۱٤میلادي کال ترپای پورې ټول پوځي مسوولیتونه افغان پوځي ځواکونو ته وسپاري. همدا چې افغانستان دانتقال پروسه پیل کړه، دنړیوال بانک عمومي رئیس یوه مقاله ولیکله، چې په هغې کې داقتصادي ودې او پرمختیا په اړتیا او ضرورت باندې تاکید او ټینګار وشو. دغه مقاله په دې لاندې انټرنیټي ویب پاڼه کې دلاس رسی وړ ده:

http://go.worldbank.org/XBG78ON9X0

**پوهنه (معارف):** په ۲۰۰۱ میلادي کال د طالبانو درژیم له سقوط او رانسکوریدو وروسته دهلکانو ترمینځ په ښوونځیو کې د ماشومانو دشمولیت اندازه په سلو کې ٤۳ او په نجونو کې یوازې په سلو کې ۳ اټکل شوې وه. همدارنګه په هغه وخت کې شاوخوا ۲۱۰۰۰ ښوونکي ، چې زیاترو کې کافي سواد نه درلود، تقریباً پنځه میلیونه د ښوونځیو زده کوونکو ته په تدریس بوخت وو، چې په دې حساب هر ښوونکي شاوخوا ۲٤۰ تنو زده کوونکو ته دتدریس چارې ترسره کولې . له ۲۰۰۲ میلادي کال راهیسې په ښوونځیو کې د زده کوونکو د شمولیت اندازې له یو میلیون څخه ۸ میلیونو ته زیاتوالی موندلی دی، چې په دې ترتیب د نجونو شمولیت له ۸۳۹۰۰۰ څخه ۲،۵ میلیونه تنو ته زیاتوالی ښیي. له ۷۹۰۰۰ زده کوونکو څخه زیات، چې دهغو په سلو کې ۲٦نجوني تشکیلوي، په ۲۰۰۸ میلادي کال له ۱۲ ټولګي څخه فارغ شوي دي. له ۱۱۰۰۰۰ تنو څخه زیاتو ښوونکو لازمې زده کړې تر لاسه کړې . دا په داسې حال کې دي چې یوازې ٦٥٥٤٤ تنو ښوونکو یوازې په ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ میلادي کلونو کې زده کړې ترلاسه کړي دي. له ۳۰۰۰ څخه زیات درسي ټولګي او ٥٤۰ نوي ښوونځي په دې موده کې جوړ شوي دي.

**روغتیا:** په افغانستان کې د عمر منځنۍ کچه ٤۳،٦ کاله دی ، په داسې حال کې چې د نړۍ په نورو هیوادونو کې ، چې د عاید کچه یې ټیټه ده منځنۍ کچه ٥۹ کاله ده ، یوازې په سلو کې ۲۷ افغانان د ځښلو روغتیایي اوبو ته او په سلو کې ٥ یې مناسبې روغتیا ساتنې ته لاس رسی لري ، له دې سره سره هم په تیرو ۹ کلونو کې په دې برخه کې د کتنې وړ پرمختګونه لاس ته راغلي دي په اوس وخت کې تقریبا په سلو کې ۸٥ وګړي په داسې سیمو کې ژوند کوي ، چې هغه د ژوند داساسي روغتیایي خدمتونو د مجموعې د وړاندې کولو د پروګرام ترپوښښ لاندې شپې ورځې تیروي. دا په داسې حال کې دي ، چې په ۱۳۸۷ لمریز کال کې د ملي زیان منلو او خطر د رپورټ پر اساس د شاوخوا په سلو کې ٥۷،٤ وګړي په داسې سیمو کې ژوند کوي ، چې له روغتیایي مرکزونو څخه یو ساعت پلی واټن لري د۲۰۰٦- ۲۰۰۸ کلونو په دوران کې د نویو زیږېدلو ماشومانو د مړینې په کچه کې په هرو ۱۰۰۰ ژوندیو زیږونو کې له ۱۲۹ څخه ۱۱۱کمښت موندلی (چې په سلو کې ۱۳ کموالی ښیي ) او د ٥ کلونو څخه د راښکته عمر لرونکو مړینې په کچه کې له ۱۹۱ څخه ۱٦۱ (په سلو کې ۱٥ ) ته کمښت موندلی دی.

**برېښنا ته لاس رسی:** د هغو افغانانو سلنه چې برېښنا ته لاس رسی نه لري ، په نړۍ کې ډېره ټیټه کچه ده ، د اوبو او برېښنا د وزارت د اټکل له مخې ، شاوخوا په سلو کې ۳۰ افغانان د ښاري برېښنا شبکو د اوبو برېښنا د کوچنیو د ستګاګانو او یا د لمریزې برېښنا د شبکو له لارې برېښنا ته لاس رسی لري . دا حالت له ازبکستان څخه د برېښنا د واریدیو او دوو برېښنا بندونو (ماهیپر او سروبي ، چې یوه برخه یې جوړه شوې او د نغلو بیا رغاونه روانه ده ) په هغو ښارونو کې چې د برېښنا د لیږدونې په لویه لار (مزار شریف او کابل) واقع دي ، د کتنې وړ ښه والی موندلی دی ، همدارنګه اوس د برېښنا ۲٤ ساعتونه خدمتونه په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره د هیواد په بیلابیلو برخو ، لکه : د کابل ، مزار شریف ، هرات او پلخمري په ښارونو کې برابر شوي دي .

**د نړیوال بانك ګروپ او د افغانستان دولت:**

افغانستان په ۱۹٥٥م کال کې د نړیوال بانك غړیتوب ترلاسه کړ ، په ۱۹۷۹ م کال په افغانستان باندې د وخت دشوروي اتحاد لښکرو د یرغل له امله د نړیوال بانك فعالیتونه وځنډول شول ، خو نړیوال بانك خپلې مرستې له افغانانو سره په پاکستان کې د دې بانك د دفتر له لارې پیل او دوام یې وکړ. له ۱۹۷۹ م کال څخه د مخه نړیوال بانك ۲۱ پروژې په بیلابیلو برخو، لکه ښوونه او روزنه ، سرك جوړول، او کرنه کې د بې ګټې پورونو (کریډیټ ) له لارې په افغانستان کې برابرې کړې وې د ټول ۲۳۰ میلیونه ډالرو کریډیټ له جملې څخه ، چې د نړیوال بانك پر مختیایي اداري له خوا د افغانستان لپاره منظور شوي وو، ۸۳ میلیونه ډالره یې تر ۱۹۷۹ م کال پورې ورکړل شوي وو، خو له هغې جملې څخه ۱٤۷

میلیونه ډالره یې فسخ شول ، افغانستان ۹،۲ میلونه ډالره تر ۱۹۹۲ م کال ترجون میاشتې پورې دبې ګټې پورونو د بېرته ورکړې له بابته ورکړي وو، خو وروسته له هغه چې دولت ونه کړای شول پاتې پورونه بیرته ورکړي ، همداسې پوروړی پاتې شو.

په افغانستان کې د نړیوال بانك فعالیتونه د۲۰۰۲ م کال د مې په میاشت کې له نوي سره پیل شول، ترڅو چې د ډیرو بې وزله وګړو د ډېرو بېړنیو اړتیاوو د پوره کیدلو لپاره مرسته وشي ، په داسې حال کې چې له دولت سره داداري سیستمونو د اوږد مهاله پرمختیا لپاره د هیواد په کچه مرسته ایجابوي . له ۲۰۰۲ م کال څخه راپدیخوا په افغانستان کې د نړیوال بانك مرستو په تدریج سره دکتنې وړ زیاتوالی وموند ، چې اوس نړیوال بانك له ۲،۳ میلیاردو امریکایي ډالرو څخه زیات د پرمختیایي پروژو ، بیا رغاونې او همدارنګه د بودیجوي ملاتړ د څلورو فعالیتونو لپاره ژمنه کړې ده ، په دې شمیر کې ۱،۹ میلیارده ډالره وړیا مرسته او ۴۳۶،۴میلیونه امریکایي ډالره بې ګټې پورونه (کریډیټ ) شامل دی. په اوس وخت کې نړیوال بانك په افغانستان کې ۲۵ فعالې پروژې لري، چې د هغو خالصې ژمنې له یوه میلیاردو امریکایي ډالرو څخه زیاتیږي، د دې پروژو ځینې اوس بشپړې شوي دي، د بشپړو شویو پروژو په هکله د زیاتو معلوماتو لپاره د دې لاندې انترنیتي سایټ د پروژو او پروګرامونو مخ ته مراجعه وکړئ: www.wordbank.org.af

**د افغانستان د بیا رغاونې صندوق:**
د نړیوال بانك له خوا اداره کیږي . له ۲۰۰۲ م کال څخه راپدیخوا ۳۲ تمویلونکو د دغه صندوق له لارې د افغانستان سره ۴،۳ میلیارده امریکایي ډالرو د تمویل ژمنه کړې ده ، دا صندوق په اوس وخت کې د افغانستان د دولت د لومړیتوبونو او د پرمختیایي پروګرامونو د ستر تمویلوونکي په توګه راڅرګند شوی دی . د دې صندوق ټولې مرستې د افغانستان د دولت له لومړیتوبونو سره په سمون کې له پروژو او پروګرامونو سره ترسره کیږي . په دغو لومړیتوبونو کې د کرنې ، د کلیو پرمختیا ، عدلیې سکتور ، د خصوصي سکتور پرمختیا ، د ظرفیتونو لوړاوی ، پوهنه ، د ښارونوپرمختیا ، ترانسپورت او د اوبو او بربښنا د سکتور بېلابېلې برخې شاملې دي . دا صندوق همدارنګه د دولت د عادي بودجې اړتیاوې پوره کوي ، چې تراوسه یې له ۲،۲۹ میلیاردو ډالرو څخه زیات د دولتي مامورینو د معاشونو لپاره ورکړي دي .

**نړیواله مالي اداره:** د نړیوال بانك د خصوصي سکتور برخه په افغانستان کې د پانګې اچونې په برخه کې د پخوا په څېر خپل ملاتړ ته دوام ورکوي ، په اوس وخت کې دا اداره په شپږو کمپنیو کې ونډه لري، چې ټوله پانګه یې له ۹۰ میلیونه ډالرو څخه زیاتیږي . دغه ونډې په مالي برخو کې (په افغانستان کې د کوچنیو پورونو لومړی بانك ، برك افغانستان بانك ، د افغانستان بین المللي بانك) مخابراتو (د افغانستان ام ټي ان مخابراتي شرکت) مېلمه پالنه (کابل سرینا هوټل) او روغتیا (اکومیټ کورنی روغتون) کې پانګه اچونه شوې ده، همدارنګه دا اداره په بیلابیلو سکتورونو کې د خپلو ټولو پروژو د پرمخبیولو لپاره هڅې او هلې ځلې کوي ، ترڅو چې په افغانستان کې پانګه اچونه زیاتوالی ومومي.

د روان میلادي کال د جولای د میاشتې په ۱۲ نیټه **څو اړخیزه پانګه اچونې د تضمین اداري**، چې د نړیوال بانک ګروپ له غړوڅخه ده، ددې موافقه وکړه چې د ام ټي ان مخابراتي شرکت دخدمتونو دپراختیا په خاطر له سیاسي خطرونو څخه دبیمې لارې چارې برابرې کړي. دغې اداري د مخه په ۲۰۰۷ میلادي کال کې ددې شرکت دفعالیتونو دپیل له پاره دلومړني پوښښ په توګه ۷٤،٥ میلیونه امریکایي ډالره برابر کړل. ددې اداري اوسنی بیمه د ۸۲،۱ میلیونه ډالرو په ارزښت د دوبی دام ټي ان دشرکت له پاره ، چې دافغانستان دام ټي ان مخابراتي شرکت څښتن او مالک دی، ددې شرکت دپانګې اچونې دبیمې او دهغې دونډه لرونکو دپورونو، چې دلسو کلونو له پاره دپانګې داحتمالي ضبط او له محدودویتونو څخه درامینځته کیدونکو خطرونو له پاره، برابر شوي دي. په افغانستان کې د څواړخیزې

پانګي اچوني دتضمين اداري له ۲۰۰٦ميلادي کال راهيسي شپږ نوري پانګي اچوني بيمه کړي دي. همدارنګه اداري په نورو هغو هيوادونو کي هم، چي جنګ - جګړي او ناامنی پکي رواني دي، فعاليتونه کړي دي، چي په دغسي هيوادونو کي دمرستو برابرول ددې اداري دفعاليتونو په لومړيتوبونو کي واقع دي.

نړيوال بانک د خپلو تحليلي مطالعاتو په لړ کي په دې وروستيو کي يو بل قدم هم پورته کړ. دروان ميلادي کال دجولای په مياشت کي دافغانستان داسلامي جمهوريت داقتصاد وزارت او نړيوال بانک، دافغانستان دولايتونو هغه رپوټ خپور کړ ،چي د ۱۳۸۸ لمريز کال دملي زيانمنني او خطر دارزيابی پربنسټ ترتيب شوی دی. دغه رپوټ په هرولايت کي د کورنيو دټولنيزاو اجتماعي حالت په هکله د يو لړ انتخاب شويو شاخصونو پربنسټ مشخص معلومات برابروي. دغه شاخصونه دژوند بيلابيل اړخونه ،چي په هغو کي غربت، فقر او بي عدالتي ، غذايي مصؤنيت ، دمارکيټونو محصولات، دسکتور په اساس دکار کسب دلارو چارو برابرول ، جنسيت، پوهنه او معارف ، روغتيا، خدمتونو او زيربناوو ته لاس رسی شامل دی.دولايتونو په کچه دپرمختيايي لاسته راوړنو په تحليل سره دغه رپوټ دخلکو دژوند دحالت جزئيات ،چي په افغانستان کي دفقر او غربت دحالت په هغه رپوټ کي، چي دنړيوال بانک او اقتصاد دوزارت له خوا خپور شو، په ډيره دقيقه توګه څرګندوي. په دې رپوټ کي ترلاسه شوي ارقام او شميرې څرګندوي چي په هر ولايت کي پرمختيايي لاسته راوړني سره توپير لري. دمثال اوبيلګي په توګه: دهلمند په ولايت کي دغربت او فقر خپريدنه او پراختيا په سلو کي ۹ وه، په اسي حال کي چي دپکتيکا په ولايت کي په سلو کي ۷٦ ده، چي دا دغربت ،په ملي کچه دپراختيا او خپريدني داندازې په پرتله ډير زيات توپير (په سلو کي ۳٦) ښيي . له ٦څخه تر ۱۲ کلونو پورې ماشومانو دشموليت اندازه د دايکندي په ولايت کي ډيره زياته شميره او رقم ددغه ولايت د ماشومانو دوه پردرې شموليت څرګندوي ، په داسي حال کي د ارزګان په ولايت کي دماشومانو دشموليت اندازه ډيره ټيټه شميره، يعني په دغه ولايت کي دشرايطو لرونکو ماشومانو په سلو کي ۲ ده.ټولنيزو خدمتونو، لکه بريښنا او دڅښلو پاکو اوبو ته لاس رسي هم په هرولايت کي ډير توپير لري . دبيلګي په توګه: دکابل ولايت استوګني په سلو کي ۸۵ دبريښنا خدمتونو ته لاس رسي لري، په داسي حال کي چي دغه شمير دارزګان او بادغيس په ولايتونو کي له په سلو کي ٤ څخه لږ دی. دغه رپوټ په دري او انګليسي ژبو په دې لاندې سايټ کي دلاس رسی وړ دی: www.worldbank.org.af

**د نړيوال بانك تګلاره:**

په افغانستان د نړيوال بانك ټول فعاليتونه او پروګرامونه د افغانستان د نړيوال بانك مؤقته تګلارې سره د سمون په رڼا کي طرح او تطبيقيږي . د نړيوال بانك مؤقته تګلاره د افغانستان د دولت له ملي ستراتيژي او تګلارې سره په سمون او مطابقت کي ده. د نړيوال بانک په تګلاره کي زيات تاکيد او ټينګار له ملي پروګرامونو څخه په ملاتړ باندې شوی دی ، چي د هغې په نتيجه کي په ټول هيواد کي د افغانانو ژوند ښه والی موندلی ، په دغو پروګرامونو کي دا لاندې برخې شاملي دي: روغتيا ، ښوونه او روزنه ، د کليو پرمختيا او عامه مالي اداره. د افغانستان لپاره د نړيوال بانك مؤقته تګلاره کي ، چي د ۱۳۸۸ – ۱۳۹۰ لمريز کلونو لپاره ده ، ٦۰۰ ميليونه امريکايي ډالره وړيا مرستي په پام کي نيول شوي دي ، په پام کي ده ، چي د روان ميلادي کال په اوږدو کي نړيوال بانك د افغانستان لپاره خپله نوی درې کلنه تګلاره جوړه کړي. د افغانستان له پاره دنړيوال بانک مؤقته ستراتيژي او تګلاره، چي له ۲۰۱۲ څخه تر ۲۰۱٤ مالي کلونو پورې ده، يعني دنړيوالي پرمختيا داداري دمرستو ۱٦پړاو، همدا اوس دتدوين او ترتيب په حال کي ده.

**لاسته راوړني:**

**پوهنه:** نړيوال بانك د لومړنيو ښوونځيو او د ښوونکو د روزني د ادارو د جوړولو په برخه کي مرسته کړې ده او د پوهني او لوړو زده کړو د وزارتونو د ظرفيتونو په لوړاوي کي علمي او تخنيکي مرستي

کوي. د ښوونځيو د ودانيو د جوړولو او درسي موادو ته د لاس رسی په برخه کې د نړيوال بانك پروګرام د ښوونځيو د تعليمي شوراګانو د چارو د ښه والي لپاره د هغوی تمويل کوي. د پوهنې د کيفيت دښه والي دپروګرام له لارې په ټول هيواد کې ۱٦۰۰ ښوونځي جوړ او يا بيا رغول شوي دي، چې دساختماني کار له جملې څخه يې په سلوکې ۵۰ بشپړ شوی او دنورو پاتې ښوونځيو ساختماني او دجوړولو چارې همدا اوس رواني دي.

**روغتيا:** د نړيوال بانك په همکاری د هيواد په ۱۸ ولايتونو کې له ۲۰۰۳ څخه تر ۲۰۰۸ م کال پورې روغتيايي پروګرامونه درې برابره، يعني له ۱۴۸ څخه ۴۳۲ مرکزونو ته زياتوالی موندلی دی. شاوخوا ۲۰۰۰۰ سيمه ييز روغتيايي کارکوونکو، چې نيمايي يې ښځينه کارکوونکې دي، زده کړه ليدلې ده او په ټول هيواد کې په دندو ګومارل شوي دي، چې دا کار د کورنی پلان جوړونې او د ماشوموالي په دوره کې د واکسين د زياتوالي لامل او سبب شوی دی. د هغو روغتيايي مرکزونو شمير چې زده کړه لرونکې روغتيايي کارکوونکې لري، د پروژې له تطبيق څخه د مخه په سلو کې له ۲۵ څخه اوس په سلو کې ۷۴ ته زياتوالی موندلی دی. نړيوال بانک په اوس وخت کې په کليو کې اړمنو وګړو ته دروغتيايي فعاليتونو دپياوړتيا دپروګرام له لارې دعامې روغتيا له وزارت سره په ۱۱ ولايتونو کې د لومړنيو روغتيايي خدمتونو دبرابرولو او وړاندې کولو په برخه کې مرسته او ملاتړ کوي.

**د کليو پرمختيا:** د ملي پيوستون پروګرام په ټول هيواد کې د کاري فرصتونو د رامنځته کولو او زير بناوو د ښه والي لپاره يوه ډيره مهمه وسيله ګڼل کيږي. نړيوال بانك د ملي پيوستون پروګرام له سترې تمويلوونکې منبع څخه ګڼل کيږي. د دې پروګرام له لارې سيمه ييزې پروژې د سيمې دخلکو د خپل لومړيتوب په اساس په نښه شوي او تمويليږي. دغه پروګرام د هيواد په ۳۴ ولايتونو کې له ۵۷۰۰۰ څخه زياتې پروژې د کليو په سطحه له ۲۷۰۰۰ څخه په زياتو کليو کې تمويل کړې دي. تقريباً په سلو کې ۸۰ پروژې په زيربنا يې ساحو، لکه: اوبه لګول، کليوال سرکونه، بريښنا او د څښلو اوبو په برخو کې دي، چې دا ټولې پروژې د کليوال اقتصاد په ښه والي کې ستر ارزښت او اهميت لري. د دې پروژو له نيمايي زياتې اوس بشپړې شوي دي.

د دې پروګرام د کليوالو سرکونو ته د لاس رسی ملي پروګرام د کال په اوږدو کې د افغانستان کليوالو سيمو ته د لاس رسی د برابرولو لپاره کار کوي. په ۲۰۰۷م کال د دې پروګرام له پيل څخه د ۱۳۳۱ کيلومتره د ولسواليو او کليو سرکونه او همدارنګه د سرك د غاړې ۹۰۰۰ متره ويالو د جوړولو کار بشپړ شوی دی. دې پروژې شاوخوا دوه ميليونه کاري ورځې په ټول هيواد کې رامينځته کړې دي.

**د کوچنيو پورونو د خدمتونو د ښه والي او پراختيا پروژې:** په تيرو اوو کلونو کې ټول ۱،۸ ميليونه امريکايي ډالر پورونه په ټول افغانستان کې د يوه ميلياردو امريکايي ډالرو په مجموعي ارزښت برابر کړې دي. د کوچنيو پورونو ۱۱ ادارو او مرکزونو د ۲۴٦ څخه زياتو شبکو او ساحوي دفترونو او د ۳۴۴۰۴۹ تنو مشتريانو په لرلو سره، چې د پور او سپما (پس انداز)حسابونه لري، په ۲۳ ولايتونو کې فعاليت کوي. اوس په سلو کې ٦۳ مشتريان ښځې تشکيلوي. همدا اوس شاوخوا (۳۲۸۷) تنه په دې سکټور کې کار کوي، چې نيمايي پستونه او اداري مديريتونه يې پخپله د افغانانو له خوا اشغال شوي دي. د ۲۰۰۷ م کال د سروې په اساس هر پور ۵، ۱ برابره کاري لارې چارې برابروي، نو په همدې اساس ٦۵۰۰۰۰ کاري لارې چارې او شغلونه د همدې سکټور له لارې په افغانستان کې رامينځته شوي دي او په تيرو کلونو کې زيات شمير وګړو له دې پروګرام څخه ګټه اخيستې ده.

**د عوايدو راټولول:** د ګمرکي معلوماتو او اطلاعاتو د خپل کاري يا اتوماتيك سيستم (ايسکوډا) په تطبيق او پلي کيدو سره د افغانستان په ټولو بندرونو کې د ګمرکي مالياتو راټولولو ښه والی موندلی دی او په ۱۳۸۷ ل کال کې ګمرکي عوايدو تقريباً په سلو کې ۷۰۰ زيات والی ښيي. د ګمرکونو د مالياتو په

راټولولو کې دغه زیات والی د بندرونو کمپیوټري کول، د وارداتي او صادراتي اقلامو د تشریح په وخت کې زیات کنترول او د ګمرکونو د ریاست د کار کوونکو د کاري ظرفیت د لوړتیا له امله دی. تر اوسه پورې په ټولو اړوندو ریاستونو کې، د کابل د هوایي ډګر د ګمرك په شمول، چې په هیواد کې په سلو کې ۵۵ اظهار نامې صادروي، د ګمرکاتو طی مراحل او پړاوونه په اتومات او خپل کاري سیستم بدل شوي دي. همدارنګه ایسکوډا سیستم په ټولو څلورو سترو او کلیدي بندرونو کې، چې تقریباً د افغانستان په سلو کې ۶۵ صادرات او واردات جوړوي، نصب او فعال شوي دي.

**د برېښنا برابرول:** د برېښنا د بیا رغوني پروژه د کابل ښار د اوسیدونکو لپاره د برېښنا د وړاندې کولو ډاډ من خدمتونه برابر کړي دي. د دې خدمتونو وړاندې کول د نوموړې پروژې له خوا د څو دستګاوو د جوړولو اوفعالولو څخه وروسته تر سره شوي دي. د کابل او شمال ختیځ تر مینځ د ۱۱۰ کیلو ولټه شبکې په اتصال او د کابل د شمال لویدیځ او شمال سب ستیشنونو بیا رغونه د ۱۱۰ کیلو ولټه مزي غځول، چې د نغلو او ماهیپر له بندونو څخه برېښنا د کابل شبکې ته رسوي، د لوړفایبر نوري د ځمکنې مزي غځول له چمتله څخه تر پلخمري پورې او د شمال ختیځ برېښنا د انتقال او لیږدونې سیستم د کابل د منځنی ولټاژ له سیستم څخه دی. دا کار په کابل کې د برېښنا مصرف کوونکو ته د برېښنا د ښه وړاندې کولو سبب او لامل ګرځیدلی دی او هغوی یې په ډېر مصرف لرونکو جنراتورونو باندې له تکیه کولو څخه ژغورلې دي. سربیره پر دې د خیر خانې مینې او احمد شاه بابا مینې اوسیدونکې د برېښنا له نعمت څخه برخمن شوي دي.
سر بیره پر دې دوه نورې پروژې ( د کابل، ایبك او مزارشریف د برېښنا پروژه او همدارنګه د افغانستان برېښنا د سکټور پروژه) چې د افغانستان د بیا رغونې د صندوق له خوا تمویلیږي، د برېښنا د شبکو او سب سټیشنونو بیا رغونه په بیلابیلو مرکزونو کې، چې د کابل- مزار شریف د لویې لارې په اوږدو کې واقع دي، مالي مرسته او ملاتړ یې کوي. په دغو ښارونو کې مزارشریف، پلخمري، چاریکار، ګلبهار، جبل السراج ښارونه او د کابل ښار ځیني برخې شاملې دي، په پام کې دي چې په ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲م کلونو کې ددې پروژې د کار له بشپړیدو څخه وروسته په دغو ځایونو کې برېښنا ته د خلکو لاس رسی د کتنې وړ ښه والی ومومي.

**د باغوالۍ په برخه کې د باغوالۍ او مالدارۍ پروژې**، تر اوسه پورې د انګورو تاکونه او زردالو، بادام او آنار نیالګي له ۳۰۰۰ هکټارو څخه په زیاته ځمکه کې کینول شوي او له ۶۰۰ ښځو څخه زیاتو په دې پروګرام ونډه او برخه لرلې ده.

**د حیواني روغتیا په برخه کې د باغوالۍ او مالدارۍ پروژه**، ۱۱۴ دولتي کلنیکونه په بیلابیلو سیمو او ساحو کې زده کړه لرونکو وترنرانو ته انتقال شوي، تر څو چې هغوی په شخصي او خپلواکه توګه فعالیت وکړي. د دې پروژې د چرګانو ساتنې فارم له ښځو سره مرسته کړې ده، چې د خپلو چرګانو ساتنې محصولاتو ته زیاتوالی ورکړي او په پایله (نتیجه) کې د هغوی د ژوند او اقتصاد د حالت د ښه والي لامل او سبب وګرځي. له ۱۲۸۰۰ څخه زیات د چرګانو دساتنې فارمونه رامینځته شوي، چې له هغې جملې څخه ۷۰۰۰ یې په ۲۰۰۹ میلادي کال او نور ۵۸۰۰ فارمونه دروان میلادي کال په لومړیو کې رامینځته شوي دي.  په ۲۰۰۹م کال د جوړشویو فارمونو له جملې څخه شاوخوا په سلو ۹۴ فارمونه یې دویم پړاو په خپلواکه توګه له مالي مرستې پرته پروژه پر مخ بیایي، چې دا کار د دې سکټور د پایښت څرګندوی دی. همدارنګه تر اوسه پورې ۱۶ میلیونه د چرګانو هګۍ تولید شوي او شاوخوا(۲۰۰) د چرګوړو ایستلو ماشینونه رامینځته شوي دي.

**د اوبو لګولو د سیستم د یوې جوړونې د پروژې له لارې**، ۷۷۲ منځنۍ او لویې د اوبو لګولو پروژې، چې له ۷۶۳۳۰۰۰ هکټارو څخه زیاته ځمکه د هیواد په بیلابیلو برخو او سیمو کې خړوبوي، مرسته شوي دي. ددې سیستم د رغونې په پایله کې اوس ۱۵۴۰۰۰ هکټاره ځمکه خړوبه شوې او د هغو

حاصلاتو د کتني وړ زياتوالی موندلی دی. د هوا پيژندني د ۱۷۴ سټيشنونو له جملې څخه ۱۰۵ يې د هيواد په بيلابيلو برخو کې نصب او ګټې اخيستنې ته سپارل شوي دي. د (۴۰) کيبلي پلونه د نصبولو کار پيل شوي دي. دغه اسانتياوې د استفادې لپاره د هيواد د سيندونو د اوبو د جريان د اندازه کولو، پلان جوړولو او د اوبو د زيرمو او منابعو د پرمختيا په برخه کې بنې لارې چارې برابروي.

**کليوالي صنايع:** د افغانستان د کليوالي صنايعو د پرمختيا پروګرام د سوداګريزې پرمختيا، مالي منابعو ته د لاس رسی د ودې، په بازارونو کې د اړيکو د پياوړتيا او په کرنيز ارزښت په زنځيره کې د خدمتونو د وړاندې کولو له لارې تول د سيما (پس انداز)۱۳۰۰۰ ګروپي صندوقونه ۶۵۰۰ سوداګريز ګروپي صندوقونه، ۱۳۰۰ سيما رهني او مرستندويه (تعاوني) صندوقونه په کليو کې رامينځته کيږي.
سوداګريز ګروپي صندوقونه به په کليو کې د بالقوه اقتصادي مؤسسينو د زياتوالي په کار کې، چې هغه بازار ته د لاس رسی په وده، تخنيکي معلوماتو په برابرولو، د لومړنيو سوداګريزو مهارتونو په زياتوالي او د هغوی د سوداګريزو توليداتو د ارزښت د زياتوالي په چارو کې مرسته کوي. د افغانستان دکليوالي صنايعو دپرمختيا دپروګرام له لارې دروان ميلادي کال داګست ترمياشتې پورې دپروان ، باميان، ننګرهار، بلخ او هرات په ولايتونو کې ساحوي دفترونه تأسيس شوي دي او همدارنګه داړوندو چارو له پاره يې داړتياوړ کارکوونکي هم استخدام شوي دي. دغو دفترونو همدا اوس په ۱۷ ولسواليو کې ۲۳۵ ځايونه ترخپل پوښښ لاندې راوستي دي. په مجموع کې تول ۱،۷۵۷ دسيما ګروپونه د ۲۰،۸۳۷ تنو غړيو په درلودلو سره رامينځته شوي دي. سربيره پردې ۷۶سوداګريز ګروپونه له ۳،۳۹ ميليونو څخه تر ۸،۸ ميليونو افغانيوپورې پانګې سره رامينځته شوي دي. دې تولو دسيما او سوداګريزو ګروپونو پخپلو منځونو کې يو له بل سره دپورونو ورکول پيل کړي دي.




د زياتو معلوماتو لپاره په کابل کې له عبدالرؤف ضياء سره اړيکې ونيسئ:
ټيليفون: ۰۷۰۰۲۸۰۸۰۰ - ايميل: azia@worldbank.arg